سلام خان ۲۰۱۳/۰۲/۱۵

# افغانستان د امریکایي پوځیانو د وتلو د اعلان هرکلی کوی



د افغانستان د دفاع وزارت ویندوی جنرال ظاهرعظیمي په کابل کې خبریالانو ته وویل: افغان ملي اردو چمتو ده چې له افغانستانه د وتونکو امریکایي او نورو بهرنیو پوځیانو تشه ډکه کړي. امریکا د افغانستان د لس کلني جګړې په موده کې هغه هیواد ته ټول ۱۰۰ زره عسکر استولي وو. ویل کیږي چې افغان قواو ته به د ناتو د قواو نه بشپړی امنیتي چارې په ۲۰۱۴م کال کې وسپارل شي د افغانستان د دفاع وزارت ویاند دا څرګندونی تر هغه وروسته کړی دی چې د امریکا متحده ایالاتو ولسمشر بارک اوباما، د سه شنبې په ورځ وویل چې د ۲۰۱۴ کال تر لومړیو پوري به له افغانستان څخه ۳۴۰۰۰ امریکایي سرتیري راوباسي. دا په دغه هیواد کې د میشتو امریکایي سرتیرو نزدې نیمایی برخه ده متحده ایالاتو جمهور رئیسان د خپل هیواد د سنا مجلس ته د راتلونکي کال له پاره خپل پلانونه اعلانوی، اوباما ټینګار وکړ چې په افغانستان کي میشت امریکایي سرتیري به خپل ډیر پام د افغان امنیتي ځواکونو روزنې ته واړوي. هغه وویل: «له افغانستان څخه د امریکایي سرتیرو د راایستلو بهیر به دوام وومومي او د راتلونکي کال تر پای ته رسیدو مخکې به په افغانستان کې زموږ جګړه پای ته رسیدلې وي اوباما په خپله وینا کې له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو د رایستلو د پلان د جزئیاتو په اړه خبري و نه کړې. سپینه مانۍ ښايي په دې اړه یوڅه وخت وروسته نور جزئیات اعلان کړي تراوسه لا دا خبره روښانه نه ده چې امریکا به تر ۲۰۱۴ کال وروسته په افغانستان کې په څه تعداد سرتیري وساتي.

یوه بله ډیره مهمه موضوع چې اوباما او په ناټو کې نور ملګري هیوادونه يې باید په اړه پریکړه وکړي دا ده چې تر ۲۰۱۴ کال وروسته به څومره افغان امنیتي ځواکونه تمویل کړي یوه امریکایي چارواکي ویلي دي چې لا تر اوسه پورې په دې اړه کومه پریکړه نه ده شوې. اوباما په خپلو خبرو کې یوازې ویلي دي چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو راتلونکی ماموریت به د افغان ځواکونو روزنه، تجهیز او د القاعدې له منځه وړل وي:

تر ۲۰۱۴ کال وروسته، د یوه خپلواک او متحده افغانستان له پاره به د امریکا متحده ایالاتو ژمنه دوام پیدا کړي، خو زموږ د ژمنې څرنګوالی به بدلون وومومي، تر دې مخکې ولسمشر اوباما په واشنګټن کې له خپل افغان سیال حامد کرزي سره لیدلي ول. دواړو مشرانو پر دې خبره باندي موافقه کړې وه چې تر دې وروسته به افغان ځواکونه د پوځي عملیاتو مشري پر غاړه واخلي. دا چې افغان ځواکونه به د عملیاتو مشري څرنګه پر مخ بوځي ښايي د وخت په تیریدو سره روښانه شي. خو امریکایي ځواکونه وايي چې افغانان د دې وړتیا لري چې دغه مسئولیت ته اوږه ورکړي، بارک اوباما په پلو خبرو کی ویلی دی چی له ۲۰۱۴ کال وروسته به د یو موټي او خپلواک افغانستان سره د امریکا ژمنتیا روانه وي، خو زموږ د ژمنتیا بڼه به بدله شي. موږ له افغان حکومت سره پر یوه هوکړه لیک خبرې کوو، چې پر دوو ماموریتونو راغونډ دی، د افغان ځواکونو روزنه او سمبالونه چې دغه هېواد بیا په ګډوډۍ کې ور ونه ښویږي. او د ترهګرۍ ضد هلې ځلې چې موږ ته د القاعدې او ورسره تړلو ډلو پسې اخیستلو لار هواروي. نن هغه ډله چې پر موږ یې د سپتمبر پر ۱۱مه برید وکړ د خپل پخواني جوړښت سیوری شوی دی، په پام کې ده چې په افغانستان کې د امریکا جګړه ییز عملیات د ۲۰۱۴ کال ترپایه ختم شي، خو دا لا څرګنده نه ده، چې په دغه هېواد کې به تر ټاکل شوي مهال وېش وروسته څومره امریکایي پوځیان پاتې کیږي پاتی کیدونکو امریکایی پوځیانو دنده یوازی دافغانستان دپو ځ ملاتړ او روزنی پوری تړلی دی، تېره اوونۍ، امریکایي او افغان ولسمشرانو افغان ځواکونو ته د امنیتي مسؤولیتونو د لېږد پر چټکوالي خبرې وکړې.

سپیني مانۍ وړاندې اشاره کړې وه، چې ګني افغانستان کې د جګړه ییز ماموریت تر ختمېدا وروسته د نژدې نهو زرو امریکایي پوځیانو د پاتې کېدو وړاندیز غوره بولي، وړاندې په افغانستان کې مېشتو ناټو ځواکونو هم ویلي وو چې تر مهال وېش وروسته به یو شمېر ناټو ځواکونه افغانستان کې پاتې شي.

د امریکا متحده ایالاتو د دفاع وزیر لیون پنیتا، د اوباما د دغې پریکړې هرکلی کړی دی او ویلي يې دي چې هغه په


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

افغانستان کې د امریکایي پوځي قوماندانو له سپارښتنې سره سرخوري.

په همدې حال کې یوه بل امریکایي چارواکي د نوم د نه اخیستلو په شرط ویلي دي چې په افغانستان کې میشت امریکایي قوماندان د دې صلاحیت لري چې د اوباما پلان د شرایطو په پام کې نیولو سره عملي کړي. دغه امریکایي چارواکي زیاته کړې ده چې امریکایي قوماندانان کولای شي د دغو ۳۴۰۰۰ پوځیانو له ډلې څخه یو شمیر یې د راتلونکي کال تر لومړیو میاشتو پورې په افغانستان کې وساتي، اوباما همداراز د شمالي کوریا له خوا وروستۍ اتومي ازموینې ته په اشارې وویل، چې د شمالي کوریا پر وړاندې به سخت ګامونه اوچت شي او پر ایران یې غږ وکړ چې نور د اتومي لانجې لپاره د ډیپلوماتیک حل وخت رارسېدلی، ځکه چې یو پیاوړی اتحاد کلک ولاړ دی او له ایران څخه غوښتنه کوي چې خپل مسوولیتونه ترسره کړي.

د افغانستان او بریتانیا دفاع وزارتونو له افغانستانه د شاوخوا نیمایي امریکایي پوځیانو د وتلو د اعلان هرکلی وکړ ،د بریتانیا دفاع وزیر فلیپ هامنډ وویل چې تر راتلونکي کاله پورې د نیمایی پوځیانو د ایستلو په اړه د ولسمشر بارک اوباما داعلان هر کلی کوی د بارک اوباما له اعلان سره سم به راتلونکی کال دا مهال ۳۴ زره امریکایی پوځیان له افغانستانه وتلي وه بریتانیا ویلي چې سږ کال به له افغانستانه خپل تر نیمایي زیات پوځیان یعني ۵۲۰۰ وباسي. دا هیواد په افغانستان کې شاوخوا نهه نیم زره پوځیان لري ،دفاع وزیر هامنډ وویل، افغان امنیتي ځواکونه ورځ په ورځ په ځان باوري کېږي او حاضر دي چې د ټول هیواد امنیتي چارې په خپل لاس کې واخلي طالبانو بیا د امریکایي پوځیانو د ایستلو په باب د اوباما د اعلان په اړه وویل چې یوازې هغه وخت به دوی ته د منلو وي چې امریکا د ټولو عسکرو د ایستلو اعلان وکړي د طالبانو یوه ویندوی ذبیح الله مجاهد وویل: یوازینۍ د منلو وړ لاره دا ده چې ټول بهرني پوځیان له افغانستانه فوراً ووځي د امریکا دفاع وزیر لیون پنیتا د ولسمشر اوباما د پرېکړې هرکلی وکړ، ویې ویل، په راتلونکو کلونو کې په افغانستان کې د امریکایی پوځیانو د شمېر د کمېدا پړاو رارسېدلی او د دې پلان سپارښتنه په افغانستان کې د امریکایی پوځیانو پخواني قومندان جنرال جان الن کړې وه، د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، د سپیني ماڼۍ یوه چارواکي وویل چې پر لویو مسلو لا پرېکړه نه ده شوې، اوباما یوازې دا ویلي چې په افغانستان کې به د امریکا راتلونکی ماموریت د افغان امنیتي ځواکونو په روزنې، تجهیزولو او د القاعده شبکې په له منځه وړلو متمرکز وي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ